# دا جوماتونه د میتازو او ګنده ګۍ لپاره ندي جوړ شوي، بلکې یوازې د الله تعالی د ذِکر، لمانځه، او قرآن کریم د تلاوت لپاره جوړ شوي دي

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت وایي چې: موږ په مسجد کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو، چې ناڅاپه یو بانډه چي راغی او په جومات کې یې میتیازې وکړې، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابو وویل: "مه مه" یعنې (دا کار مه کوه) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «پرېږدئ(یعنې متیازې کول پرې مه بندوئ)»، نو هغو پرېښوده تر څو یې میتیازې وکړې، وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم راوغوښت او ورته یې وفرمایل: «دا جوماتونه د میتازو او ګنده ګۍ لپاره ندي جوړ شوي، بلکې یوازې د الله تعالی د ذِکر، لمانځه، او قرآن کریم د تلاوت لپاره جوړ شوي دي یا لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، وایي بیا یې له خلکو څخه یو سړي ته امر وکړ چې یوه بوقه اوبه راوړي او پر هغه ځای یې واړوي.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم په خپل مسجد کې د خپلو اصحابو سره ناست و، چې یو بانډه چي سړی له بانډې څخه راغی او د جومات په یوه څنډه کې د متیازو کولو لپاره کېناست. نو صحابو وراټه او ورته یې وفرمایل: ودرېږه، او دا کار ونه کړې. نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "هغه پرېږدئ، چې خپلې متیازې وکړې، نو هغوی پرېښود، تر څو یې کار خلاص کړ. بیا نبي صلی الله علیه وسلم راوغوښت او ورته یې وویل: دا جوماتونه د دې متیازو او ککړتیاوو لپاره نه دي جوړ شوي، بلکې یوازې د الله جل جلاله د ذِکر، لمونځ، او دقرآن کریم لوستلو او داسې نورو کړنو لپاره دي. بیا نبي صلی الله علیه وسلم له اصحابو څخه یو ته امر وکړ چې یو ډک سطل اوبه راوړي او د متیازو پر ځای یې واړولې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8948